**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۷** **نېټه: ۲۴ / ۳ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** په ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق نېټه چې له ۱۴۰۱/۷/۱۳ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د محترمې عالي شورا جلسه دایره شوه چې د یاد مجلس د اجنډا لسمه موضوع داسې وه: ((د محکمو د هغه شمېر کارمندانو په هکله څه ډول اجراأت وشي چې کور یې په یوه ولایت کې وي او دنده یې په بل ولایت کې؟))

د عالي شورى محترم مقام د ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق نېټې د (۷) ګڼه تصویب د لسمې فیصلې پر بنسټ د پورته یادې موضوع په هکله داسې هدایت وکړ:

((د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو د ریاستونو او د سترې محکمې د نورو ریاستونو منسوبین، په ځانګړې توګه قضائي غړي یې، مکلف دي چې د خپل مسئولیت په نژدې سیمه کې د کور چارې تنظیم کړي چې په دې ترتیب سره به د خلکو د قضیو په حل او فصل کې له ځنډ څخه مخنیوی وشي.

په راتلونکې کې، هېڅ څوک باید د مسافرۍ په حالت کې نه وي او د خپل مسؤولیت سیمې ته د کور نه راوړلو په هکله یې هېڅ قسم عذر د منلو وړ نه دی.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورى د محترم مقام د پورتني تصویب لسمه فیصله د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو او نورو اړونده ریاستونو ته واستول شوه تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.